مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نایيي ۲۰۲۵/۰۶/۱۶

# یوه نوي ښېه او نوي خلک

## پنځمه برخه

**مې میاشت ۲۰۲۵م کال – کابل**

پنځمه برخه د تیمورشاه مقبره او بڼ مي ولیدل، ښار کې مي هم کار خلاص شو، کاهفروشي ته ولاړم، ما ویل هسې نه چې لیدل یې راخخه پاتې شي. یواځینی ځای چې کوم خاص تغیر پکې نه ښکارېده، همدا پخوانی زړه کوځه وه. د مرغانو خوارو غږونه، د آهنګرو د چکشونو وزمین غږونه، د دوکاندارانو او پیردونکو ترمنځ د چنو وهلو اوازونه؛ ښه لګېدل. د

شکسته‌بند دوه، درې دوکانونه اوس هم په دې کوځه کې پرانیستي وو. د وریجو پخوانی مندیي مې هم ولیده، د ډول - ډول حبوباتو سربېره رقم، رقم کورت هم پکې خرڅېدل. له دغو ټولو کوڅو او دوکانونو ښخه چې په هغه ورځ تېر شوم، د افغانستان له هر ګوټ ښخه مې خلک پکې ولیدل چې د وروری په فضا کې یې خپل کارونه مخ ته وړل، په ښار کې مې چې عامو خلکو ته کتل، اصلاً نه ښکارېدل چې دوی دې د قوم او ژبې په نوم له یو بل ښخه جلا وي، یا دې څوک سره جلا کړي.

هوا توده وه، د ګنیوو او لیمو یو ګیلاس یخ شربت مې د سرک د غاړې یوې کراچۍ ښخه واخیست او په سر مې واړاوه، د طروات او تازګي خوند یې اوس هم په خوله کې لرم. له هغه ځای ښخه شهرنو ته ولاړم، یو ملګري سره مې له مودو پس ولیدل، د یو بل په لیدلو ډېر خوشحال شو، یو ساعت مو غوري وکړې او بیا مې ترې رُخصت واخیست. د شهرنو د ګلفروشۍ او مرغها کوڅې له قدیمه مشهوري دي، هلته مې د ارزان قیمتو خوړو څو نویو پرانیستل شویو رستورانتونو پام ځانته وروارواوه. پخوا د مرغها کوڅې په دوکانونو کې زیاتره انتیک شیان، ګاڼې، غالۍ او لرغوني توکي خرڅېدل چې اکثره مشتریان یې هم بهرنیان وو، خو اوس د بهرنیانو د شمېر په کمېدو، د انتیک پلورنځیو هغه پخوانی خونده نه وه پاتې او پر ځای یې رستورانتونو ښه بازار درلود. په دې کوڅه کې مې د کارګو د خدماتو نوي پرانیستل شوي دفترونه هم ولیدل. د کارګو د خدماتو دغو دفترونو په بهر کې مېشتو افغانانو ته لوی غنیمت و؛ په انترنیتي سایټونو کې د انلایان پېر او پلور توکي هم زیاتره د دوی له طریقه بهر ته لېږدول کېږي.

په سویډن کې د افغانانو دوکانونه اوس د کابل د مېوې د منډيي په څېر له وچو مېوو ښخه ډک وي؛ نرخونه به یې یو څه لوړ وي، خو ارزښت لري چې بې جنجاله، کور سره له نېږدې مغازې ښخه وچه مېوه واخیستل شي، د معلوماتو له مخې بهر کې مېشت افغانان نن سبا په لویه پیمانه د کارګو د همدغو شرکتونو له طریقه بهر ته مالونه واردوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د کارګو شرکتونو د خدماتو د نرخونو په اړه مې له یو سوداګر ملګري څخه معلومات وغوښتل، هغه راته ووېل:

که څوک اروپا ته دوه یا درې کیلو مال غواړي نو د کیلو پر سر پرې ۱۵ امریکایي ډالر لګښت راځي. که د مال وزن له لسو کیلو څخه زیات وي، نو د کیلو پر سر ۱۳ امریکایي ډالر لګښت لري. که له پنځه ویشتو کیلو څخه وزن زیات شو، بیا ارزانه پرېوځي؛ شاید ۱۰ یا ۱۱ ډالره .زما هغه ورځ ډېره ښه تېره شوه. چې کور ته راغلم له ورور سره مې په دې خبرې وکړې چې څنګه او څه وخت به د چکري منار لیدو ته ورځو؟ د دې منار لیدل مې ارمان و.

نور بیا...





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ